# صفائي سُترائي او سادګي

09-December-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۭ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۭ

# صفائي سُترائي او سادګي

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت محمد بِن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د دُرُودِ پاك يو شمير مقرر كړے وو او هره ورځ به مې هغه همره شمير پوره كولو نو بيا به اوده كيدم، د دُرُود شريف په بركت يوه ورځ په ما باندې كرم اوشو، زما قِسمَت را بيدار شو، ما اوليدل چې زما خوږ آقا، حبِيبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ كور ته زما كوټې ته تشريف راوړلو، د نُورِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ځليدلو زما پوره كوټه روښانه شوه.

زه په خپله خوش قِسمتئ ډېر خوشحاله شوم...!! چې زما خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ما باندې کرم اوفرمائيلو او زما عاجزه خوا ته ئې تشريف راوړو او د محبت نه ډك انداز كښې ئې اوفرمائيل: اے زما خوږه اُمَّتِــي! په كومه خُله چې ته په ما باندې دُرُود شريف لولې، راوړه چې! زه هغه خُله ښکل کړم.

حضرت محمد بِن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك واوريدلو نو ما له حيا راغله چې چرته زما خُله او چرته د حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ښكلې ښكلې مباركې شونډې...!! په دې سوچ ما خپل مخ ښكته كړو، بيا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله زما مخ ښكل كړو.

حضرت محمد بِن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې په ما باندې نظرِ كرم اوفرمائيلو نو زه د هغې نه پس زر رابيداره شوم، زما بي بي نِزدے اوده وه، هغه هم رابيداره شوه، زمونږه كور كښې د خوشبودار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشبو خوره وه او زما د مخ نه د اَته ورځو پورې خوشبو راتله.[1]

اے عاشِقانِ رسول! تاسو اوليدل! د دُرُودِ پاك په بَرَكت په حضرت محمد بِن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې څنګه کرم شو...! الله پاك دِ مونږ ته هم په كثرت سره د دُرُود شريف لوستلو توفيق راعطا كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي وروڼړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ " رښتينے نيت

[1] ...القول البديع، صفحه: 141140۔

بهترين عبادت دے.(1)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❁ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د **اَلتَّحِيَّات** په شكل كښې كښينم ❁ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❁ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وړو بَولو نه د نه بچ كيدونكي د قبر نه آواز!

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله ابنِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا فرمائي: يو ځل زه په سفر ووم، په لاره كښې مې يو ځائے شپه راغله، ما هغه شپه د يوے بوډئ په كور كښې تيره كړه، د هغه كور خوا ته يو قَبُر وو، ما د قَبُر نه دا آواز واوريدلو: بَوْلٌ وَّمَا بَوْل؟ شَنٌّ وَّمَا شَنْ؟ يعني "متيازې! متيازې څه دي؟ مَشك! مَشک څه دے؟" د دې آواز مُتَعَلِّق مې د هغه بوډئ نه تپوس اوكړو نو هغې اُووئيل چې دا زما د خاوند قَبُر دے، ده ته د دوو ګناهونو سزا وركولے كيږي. (1) د متيازو كولو وخت كښې به ده **د متيازو د څاڅكو نه ځان نه بچ كولو**، ما به ورته وئيل: په تا افسوس دے! چې اوښ متيازې كوي نو هغه هُم ښپے ارتے كړي او ځان د څاڅكو نه بچ كوي خو ته په دې مُعامَلہ كښې بالكل احتياط نه كوے، زما خاوند به دې خبرو ته هيڅ

---

[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

تَوجُّه نه ورکوله، تر دې چې مړ شو نو د مرګ نه واخله تر اوسه پورې د ده د قَبُر نه هره ورځ داسې آوازونه راځي. (2) بوډۍ د خپل خاوند دويمه ګناه دا اوښودله چې يو ځل يو تږے کس راغلو، هغه زما د خاوند نه اوبه اوغوښتلې، نو (زما خاوند د هغه د پريشانه کولو د پاره تش مَشک طرف ته اِشاره اوکړه، او) اُوئې وئيل: لاړ شه! د هغه مَشک نه اوبه اوڅښه...! هغه تږے سړے په ډيره تادۍ هغه مَشک طرف ته ورغلو، چې راپورته ئې کړو نو هغه تش وو، د ډيرې تندې په وجه هغه کس بيهوشه شو او راپريوتلو، مړ شو.

بوډۍ نور اُووئيل: زما د خاوند د مرګ نه واخله تر نن ورځې پورې هره ورځ د ده د قَبُر نه دا آواز راځي: بَوْلٌ وَّمَا بَوْل؟ شَنٌّ وَّمَا شَنْ؟ يعني "متيازې! متيازې څه دي؟ مَشک! مَشک څه دے؟"[1]

## په چا پورې ټوقې، او زړه ازارول ګناه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې عبرتناك حكايت كښې د زده كولو او ځان پوهه كولو د پاره ډير مدني ګلونه دي، خاص طور په دې كښې د خلقو د پريشانه كولو، [په ګناه باندې مشتملو] د ټوقو كولو او د وړو بَولو د څاڅكو نه د نه بچ كيدو وبال بيان شوے دے. افسوس! نن صبا دا دواړه ګناهونه عام دي، ☸ كه درې څلور دوستان يو ځائے ناست وي، يا ☸ په دفترونو او ادارو كښې يو ځائے كار كوي ☸ بلكه سكه ورونړه هم بعضې وخت په يو بل پورې ټوقې كوي، ☸ افسوس! نن په پټو سترګو د كافرو د رواجونو د تابعدارۍ كولو په سبب خلق د دِين نه دومره لرې وتي دي چې اوس مسلمانان هم د اپريل فُول په نوم د دروغو وئيلو، ټوقو ټقالو، مسخرو او د يو بل زړه ازارولو باقاعده ورځ مناوهي او [په ټوقو ټوقو كښې] د يو بل ښه پوره پوره بے عِزَّتي

[1]...عُيُون الحكايات، حصه دوم، صفحه:188187بتغير قليل۔

کوي. ياد ساتئ! که اپريل فُول وي او که بله يوه موقع وي، د مسلمانانو بے عِزَّتی کول، په هغوئي پورې خندا کول او د هغوئي زړونه ازارول سخته ګناه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. الله پاك دِ مونږ ټول د داسې ګنده عادتونو نه محفوظه اوساتي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د عذابِ قَبُر درې اسباب

دغه شان د وړو بَولو د څاڅکو مُعامَله ده ❁ غير مُهَذَّبه خلق په کوڅو کښې د ديوالونو مخې ته واړه بَول کوي، يو خو دا د بےشرمئ کار دے چې د خلقو په مخکښې ښکاره تشې متيازې کوي او بله دا چې په داسې حالت کښې د تشو متيازو د څاڅکو نه ځان بچ کول هم ډير ګران وي او عام طور داسې کوونکي ځان د ناپاکه څاڅکو نه د ساتلو لحاظ هُم نه کوي ❁ بعضې وخت د ***W.C*** (يعنې په واش روم کښې د ناستې سيټ) جوړ والے کم وي، په داسې صورت کښې هم خاص طور ښېے د ناپاکه څاڅکو نه بچ کول ګران وي، چا ته چې د پاکئ او ناپاکئ احکام معلوم نه وي يا ځوك چې د لمَانځه عادت نه لري، د هغوئي عام طور دې طرف ته خيال هم نه وي، داسې خلق د واش روم نه پس لاسونه خو وينځي خو ښېے ئې ناپاکه پاتې شي ❁ اوس خو ورځ په ورځ په ولاړه د تشو متيازو کولو عادت زياتيږي، خاص طور په ائير پورټ، موټړ وے او نورو مقامونو باندې په ولاړه د تشو متيازو کولو مخصوص ځائيونه جوړ شوي وي، په دې صورت کښې هم بدن او جامے د متيازو د ناپاکه څاڅکو نه بچ کول ګران کار دے. ياد ساتئ! پخپله خپل ځان د تشو متيازو د څاڅکو نه نه بچ کول سخته ګناه ده. په غيبو باندې خبردار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِسْتَنْزِهُوْا عَنِ

الْبَوْلِ فَإِنَّ عَامَةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْهُ یعنې د تشو متیازو نه بچ اوسئ! بیشکه عام طور د قبر عذاب د دې په وجه کیږي.[1]

حضرت قَتاده رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ ته وئیلي شوي دي چې عَذابِ قبر په دریو حِصُّو کښې تقسیم شوے دے: (1) په دریو کښې یوه حِصَّه عذاب د غِیبَت په وجه (2) په دریو کښې یوه حِصَّه عذاب د چُغلۍ په وجه (3) او په دریو کښې یوه حِصَّه عذاب د تشو متیازو (د څاڅکو نه د ځان نه ساتلو) په وجه کیږي.[2]

## پاك څیز ناپاکه کول حرام دي

اے عاشِقانِ رسول! ځان د ناپاکۍ نه د ساتلو مُعامَله صرف د تشو متیازو د څاڅکو سره خاص نه ده بلکه خپل بدن او جامے وغیره د هر قِسمه ناپاکۍ نه بچ ساتل شرعاً لازم او ضروري دي. اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَحْرُالرَّائِق په حواله سره لیکي: تَنْجِيْسُ الطَّاهِرِ فَحَرَامٌ یعنې پاك څیز ناپاکه کول حرام دي.[3]

## اللّٰه تَعالٰی پاك خلق خوښوي

په سیپاره 2، سُورةُالبَقَرَة، آیت:222 کښې اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ وَ یُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ﴿۲۲۲﴾ (پاره:2،البقرة:222) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: بیشکه اللّٰه توبه کوونکو سره محبت کوي او ښه پاك صفا اوسیدونکي خوښوي. |

---

1 …سنن الدار قطنی، کتاب:الطهارة، جلد:1، صفحه:98، حدیث:458۔
2 …موسوعة ابن ابی الدنیا، کتاب:الغیبة والنمیمة، جلد:4، صفحه:355، حدیث:52۔
3 …فتاوٰی رضویه، جلد:4، صفحه:585۔

په تفسیر صِراطُ الجِنان کښې دي: هر شعور لرونکے په دې خبره ښه پوهیږي چې که مالداري وي او که غریبي وي، په هرحال کښې صفائي سُترائي انسان عِزَّت مند جوړوي، او ناپاکي د انسان د عِزَّت او عظمت بدترینه دُښمنه ده، څنګه چې اسلام انسان د کفر و شِرك د ناپاکو نه پاك کړو او عِزَّت او مرتبه ئې ورعطا کړه، دغه شان اسلام د ظاهري پاکئ، صفائي او سُترائي د اعلیٰ تعلیماتو په ذریعه د انسانیت مرتبه اوچته کړې ده، که د بدن پاك والے وي او که د جامو پاك والے وي، که د ظاهري شکل و صورت ښکلا وي او که د طور طریقے بهتري وي، که د کور د ساز و سامان ښه والے وي او که د سورلئ صفائي وي، دِینِ اسلام د هر څیز صفا سُتره او ښه ښکلي ساتلو تعلیم او ترغیب ورکړے دے.[1]

## د صفائي او سُترائي په اَهَمِّیَّت باندې ځلور احادیث

**(1)** د حضرت ابومالك اشعَری رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: پاکیزګي نیم اِیمان دے.[2] **(2)** د **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن** حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بیشکه اسلام صفا سُتره (دِین) دے، تاسو تل پاکي حاصلوئ! ځکه چې جَنَّت ته به صفا سُتره اوسیدونکے داخلیږي.[3] **(3)** په یو روایت کښې دي: کوم لباس چې تاسو اغوندئ، هغه صفا سُتره ساتئ، د خپلو سورلو خیال ساتئ او ستاسو ظاهري شکل و صورت چې داسې صفا سُتره وي چې د خلقو خوا ته لاړ شئ نو چې هغوئي ستاسو عِزَّت اوکړي.[4] **(4)** **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن** حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ

---

[1] ...تفسیرصراط الجنان، پاره:11، سورۀ:توبه، تحت الآیة:108، جلد:4، صفحه:240239۔

[2] ...معجم کبیر، جلد:2، صفحه:377، حدیث:3346۔

[3] ...کنزالعمال، کتاب:الطهارة، جزء:9، جلد:5، صفحه:124، حدیث:26002۔

[4] ...جامع صغیر، صفحه:22، حدیث:257۔

اللهعَنْهُ فرمائي: يو ځل آخري نبـي مُحَمَّدِ عَرَبِـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهَر د خلقو خوا ته تشريف ورلو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل عكس په اوبو كښې اوكتلو او سر او ګيره ئې سمه كړه، ما عرض اوكړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا تاسو هم داسې كوئ؟ اوئې فرمائيل: الله پاك خپل بنده خوښوي چې كله هغه د خپلو (مسلمانانو) وروڼرو خوا ته ځي نو ځان دِ ښائسته كړي. [1]

## مسجِدِ قُبا او د اَهلِ قُبا فضيلت

قُبا مسجِد، په مدينه مُنَوَّره كښې ډير مشهور جمات دے، زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر خيالي په ورځ مسجِدِ قُبا ته تشريف ورلو. په حديثِ پاك كښې دي: په مسجِدِ قُبا كښې لمُونځ ادا كول د عُمرے برابر دے. [2] په قُرآنِ كريم كښې د دې جمات فضيلت بيان شوے دے، الله پاك فرمائي:

لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ

(پارہ:11،سورۃالتوبہ:108)

مفهوم ترجمه كنزُ الايمان: بيشكه هغه جمات چې د وړومبۍ ورځې نه د هغې بنياد په پرهيزګارئ ايښودے شوے دے، هغه د دې قابل دے چې ته په هغې كښې اودريږې، په هغې كښې هغه خلق دي چې ډير ښه پاک كيدل غواړي.

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيتِ كريمه په وضاحت كښې فرمائي: يعني اے محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د لَمَانځه لائق د قُبا جمات دے، په دې جمات كښې دوه صفتونه دي: (1) يوه دا چې د دې جمات بنياد په

---

1 …احياءالعلوم، جلد:1، صفحه:432مترجم۔

2 …ترمذی، کتاب:الصلاۃ، باب:الصلاۃ فی مسجد قباء، صفحه:101، حديث:324۔

تقوٰی او پرهیزګارئ اینبودے شوے دے **(2)** دویمه دا چې په دې جمات کښې داسې خلق لمُونځ ادا کوي چې هغوئي ښه پاک او سُتره اوسیدل خوښوي، د هغوئي جامے، بدن، زړه، دماغ، رُوح، اعمال او اقوال، ټول هر څه پاك دي او

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ (پاره:11،سورةالتوبه:108)

مفهوم ترجمه کنزُ الایمان: او پاک خلق **الله** ته خوښ دي.

یعنې **الله** پاك ښه پاك صفا اوسیدونکي خلق خوښوي، چې قُبا جمات کښې لمُونځ ادا کوونکي پاك او صفا دي نو ضرور هغوئي **الله** پاك ته خوښ دي، چې هغوئي **الله** پاك ته خوښ دي نو د هغوئي جمات هم **الله** پاك ته خوښ دے، چې دا جمات **الله** پاک ته خوښ دے نو په دې کښې لمُونځ هم **الله** پاك ته خوښ دے.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپږ مبارك نومونه

اے عاشِقانِ رسول! **الله** پاك، طهارت، صفائي سُترائي خوښوي، د دې د ټولو نه لوئ دلیل دا دے چې په مخلوق کښې **الله** پاك ته کومه هستي د ټولو نه زیات محبوب ده یعني زمونږ خوږ آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، **الله** پاك هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زیات پاك صاف، طاهِر مُطَهّر (یعني پاک کوونکے) جوړ کړے دے.

زمونږه د خوږ آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه پاك نومونه کوم چې د هغوئي د اوصافو او کمالاتو وضاحت کوي، په هغې کښې شپږ مبارك نومونه دا دي:

**(1)** د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو مبارك نوم طَاهِرٌ دے، یعني هغه هستي چې په

[1] ...تفسیرنعیمی، پاره:11، سورۂ:توبه، تحت الآیة:108، جلد:11، صفحه:62ملتقطاً۔

ظاهر، باطِن، کردار ، اَفکار او وينا کښې، په هر اعتبار سره نفيس او پاك دے. **(2)** يو مبارك نوم ئې **مُطَهِّر** دے، **(3)** د هُم دې په شان يو بل نوم مبارك ئې **مُقَدِّس** دے. د دې دواړو نومونو مبارکو مطلب دے: هغه ذات چې د هغه په برکت د [نورو] انسانانو ظاهِر او باطن صفا سُتره کيږي يعنې نورو لره پاك کولو والا **(4)** د پاك نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو نوم مبارك **طُهُور** دے، يعنې پوره پوره پاك، تول پاک پاک او صفا سُتره **(5)** دغه شان يو بل نوم مبارک ئې **طَيِّب** دے، يعنې خوشبو والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، **(6)** د هُم دې په معنىٰ يو بل نوم مبارک دے کوم چې په پخوانو آسماني کتابونو کښې ذِکر شوے دے، هغه **مَاذْمَاذْ** دے او د دې معنىٰ **طَيِّب طَيِّب** ده، يعنې پاک، صفا، خوشبو والا. عَلّامه زُرقاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ولے چې حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهر و باطن کښې، هر اِعتِبار سره د ټولو نه زيات پاك، د ټولو نه زيات خوشبو والا دے، د ټولو نه زيات نفيس دے، په دې وجه د هغوئي نوم مبارک **طَيِّب** دے.[1]

زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا شپږ مبارك نومونه د هغوئي طهارت، صفائي او پاك والے بيانوي.

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طهارت او پاك والي بيان

زمونږ نومونه عام طور بس برائے نام نومونه وي يعنې د بنده کارونه د هغه د نوم برخلاف وي، د ډيرو خلقو نومونه ساجد (يعنې سجده کوونکے) وي خو هغه پاخه بيلمَانځه وي. د ډيرو خلقو نوم صادِق (يعنې رِښتيا وئيلو والا) وي خو هغوئي دروغ وائي.

خو زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُعامَله داسې نه ده، حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

---

[1] ...شرح الزرقانی علی المواہب، فی ذکر اسمائہ الشریفۃ، جلد:4، صفحہ:203ملتقطاً۔

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل هر نوم په لحاظ سره اِسْم بَا مُسَمّٰی دے يعني د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې ښنګه نوم دے، هغوئي په حقيقت کښې هُم داسې دي.

❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله دُنيا ته تشريف راوړو نو بالکل صفا وو ❁ د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مور صاحبه حضرتِ سيّده آمنه رَضِیَ اللهُ عَنها فرمائي: وَلَدْتُهٗ نَظِيْفًا مَابِهٖ قَذَرٌ يعني کله چې نبـي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړو نو بالکل صفا وو، په بدن مبارك باندې ئې هيڅ قِسمه ناپاکي نه وه[1] ❁ حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما داسې ريښم نه دي ليدلي چې زما د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ورغوي مبارك نه زيات نرم وي، ما کله هم د کستوري يا عنبر داسې خوشبوئي نه ده محسوس کړي کومه چې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې خوشبو نه زياته خوشبُوداره وي.[2] ❁ اِمام بَيهَقِـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روايت نقل کوي چې کوم خوش نصيبه به د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د لاس ميلاوولو شرف حاصل کړو نو ټوله ورځ به د هغه د لاس نه مسلسل خوشبو راتلله. ❁ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چې د کوم ماشوم په سر لاس مبارك کيښودو نو د خوشبو په وجه به هغه ماشوم په ټولو ماشومانو کښې پيژندلے شو[3] ❁ اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنها فرمائي: سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، د هغوئي په تَندي مُبارَك باندې خوَله ښکاره شوه، ما اوليدل چې د هغه خوَلے مبارکې د ځاځکو نه نُور راوتلو.[4] ❁ حضرت جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې کله به څوك د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت مبارك کښې

---

1 …شرح الزرقانی علی المواہب، ولادته و عجائب … جلد:1، صفحه:220۔

2 …مسلم، کتاب:الفضائل، باب:طيب رائحة النبی، صفحه:912، حديث:2330بتقدم و تاخر۔

3 …دلائل النبوة، جلد:1، صفحه:305۔

4…تاريخ دمشق، جلد:3، صفحه:307۔

حاضريدلو (نو د دې تپوس ضرورت به نه پيښيدلو چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشريف فرما دے بلکه) هغه به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکه خوشبو بوئي کولو بوئي کولو کښې [په هغه خوشبو پسې] روان وو او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به اورسيدلو.[1] ❁ د طَيِّب و طاهِر نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارك بدن باندې کله هم مچ نه دے ناست شوے ❁ الله پاك ته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکوالے، دومره خوښ وو چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارك ئې د سوري نه پاک ساتلے وو، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارك سَورے نه وو، په دې کښې حکمت دا هم دے چې خدانخواسته که د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن سَورے وے نو هغه به په زمکه پريوتلے او په هغه ځائے به [مَعَاذَالله] د خلقو ښپے هم راتلے ❁ دغه شان د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارك د هر قِسمه خِيري وغيره نه بالکل صفا وو بلکه د هغوئي بدن مبارك خو پاك او پاک دے، تر دې چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لباس مبارك ته د خِيري د نِسبَت کولو هم اِجازت نشته.

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك لباس ته خِيرن وئيل څنګه دي...؟

صَدرُ الشَّرِيعه حضرت مُفتـى امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بهارِ شريعت کښې ليکي: څوک چې حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټولو انبياؤ کښې آخري نبـي اونه مني يا د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو څيز توهين [بے ادبي] اوکړي يا پکښې عيب را اُوباسي، (مَثَلاً) د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ويښته مبارك په سپکاوالي سره ياد کړي يا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لباس مبارك ته ګنده او خِيرن اووائي، دا ټول کفر دے.[2]

---

1...سنن الدارمی، باب: فی حسن النبی، صفحه:48، حدیث:67۔

2...بهارِ شریعت، مرتد کا بیان، حصه:9، جلد:2، صفحه:463 ملتقطاً۔

اے عاشِقانِ رسول! دا کوم تفصيل چې عرض کړے شو، د دې نه معلومه شوه چې **الله** پاك ښه پاك صفا سُتره اوسيدونکي خوښوي، اوس مونږ له د خپل ځان په باره کښې غور کول پکار دي چې آيا مونږه هُم صفا سُتره اوسيږو؟ ❁ مونږه د خپلو جامو په باره کښې غور اوکړو ❁ د خپل ذات په باره کښې غور اوکړو ❁ د خپل خوا و شا ❁ د خپل کور ❁ خپلې کوټې ❁ خپل دُکان ❁ خپل ګاډي وغيره په باره کښې غور اوکړو چې آيا مونږه په دې ټولو ځايونو کښې د صفائې خيال ساتو؟ ❁ د خپلې کوڅے ❁ محلے مُتَعَلِّق هم غور کول پکار دي ❁ دا پاك وطن پاکستان زمونږه خوږ ملك دے ❁ مونږه په کوم ښار کښې چې اوسيږو، دا زمونږه خوږ ښار دے ❁ په کومه محله ❁ کوڅه کښې چې اوسيږو، د دې مُتَعَلِّق هم غور کول پکار دي چې آيا مونږه د خپلې کوڅے، محلے، خپل ښار او خپل وطن صفا ساتلو کوشش کوو که نه؟ او که خيال نه کوو نو د اوس نه نِيَّت اوکړئ چې مونږه د پاك نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان يُو، مونږه د طَيِّب نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه لوستونکي يو، په مونږه لازم دي چې مونږه پاکي اختيار کړو، د صفائي سُترائي والا عادت جوړ کړو او د خپل ځان، جامو، د خپل کور، کوڅے، محلے، د خپل ښار او وطن چې څومره صفائي زمونږ په اختيار کښې ده، هغه خو مونږ له کول پکاردي.

## اسلام د پاکئ دِين دے

زمونږه خوږ آقا فرمائي: تَنَظَّفُوْا بِكُلِّ مَا اسْتَطَعْتُم د خپل طاقت مناسب صفائي اختيار کړئ. فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى بَنَى الْاِسْلَامَ عَلَى النَّظَافَةِ بيشکه **الله** پاك د اسلام بنياد په پاکئ اينښودے دے.[1]

---

[1]...جامع صغير، صفحه:202، حديث:3369۔

اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته د صفائي او پاكوالي طبيعت را عطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د صفائي مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم 4 خصوصيات

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! اسلام د پاكئ دِين دے، نن صبا په ټوله دُنيا كښې په صفائي سُترائي باندې زور وركولے كيږي، البته اسلام چې مونږ ته د صفائي كوم درس راكوي، د دې خپل جُدا شان دے، راځئ چې د صفائي د تعليم مُتَعَلِّق د اسلام څلور خصوصيات واورو:

## (1) د صفائي مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم وړومبے خاصيت

په اسلام كښې چې كوم د صفائي سُترائي تعليم دے، دا د عارضي او مصنوعي صفائي د حده پورې نه دے بلكه اسلام مونږ ته د حقيقي صفائي كولو او د ګندګئ د ستړي نه د ختمولو درس راكوي. په دې باندې تاسو د يو مثال په ذريعه ځان پوهه كړئ! نن صبا خُلې نه د بوئ راتلو ډيره مسئله وي، د دې وجه مختلف خوراكونه دي، نن صبا برګر، پِزّے او نور په غوړو كښې وريت شوي څيزونه ډير زيات خوړل كيږي، د دې په وجه معده بربادېږي، او بيا په خُله كښې بدبوئي پيدا كيږي، نو خلقو د خُلې د بدبوئي ختمولو د پاره د معدے د صفائي په ځائے سپرے راويستلو، ټوت پيسټ ئې جوړ كړو چې د دې څيزونو سره به د خُلې بوئ لرې شي، نو په دې طريقو اختيارولو د خُلې بدبوئي خو ختمه شي خو د بدبوئي اصل سبب د معدے خرابي ده، دا سبب نه ختميږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اسلام د خُلې د بدبوئي ختمولو د پاره د مِسواك سُنَّت عطا كړے دے، د مسواك دا خاصيت دے چې مسواك د خُلې بدبوئي ختمولو سره سره معده او هاضمه هم ټيك كوي، د مسواك په بركت چې كله معده ټيك شي، هاضمه ټيك شي نو د خُلې نه به بدبوئي بخپله ختمه

شي.

دا د اسلام پاك تعليم دے چې واقعي اسلام د حقيقي صفائې درس ورکوي، مونږ له پکار دي چې مونږه حقيقي صفائي اختيار کړو ❁ د ګندګئ اسباب ختمولو طرف ته توجه ورکړو ❁ د کچرے د صفائې په وخت انتظام اوکړو ❁ د صفائي کولو په دوران کښې د کور فالتو څيزونه د کور د سامان په کوټه کښې کيښودلے کيږي، دغه شان د هغه کوټے نه علاوه نور کور خو صفا سُتره شي خو د هغه کوټے صفائي نه کيږي، د هغه کوټے هم صفائي پکار ده، غرض: چې مونږه په حقيقي صفائې زور ورکړو او دا خپل عادت جوړ کړو، پکار ده چې د کور د ټول سامان يو ځل يو چيك لِسټ جوړ کړے شي چې کوم سامان کله کله صفا کول دي (مثلاً فريج، ايل سي ډي، الَمارئ وغيره) بيا د هغه جدول مطابق صفائي کول پکار دي، اميد دے چې په دې طريقه به د هر څيز په وخت باندې صفائي کيږي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! اللّٰه پاك دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2) د صفائې مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم دويم خاصيت

د صفائې مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم دويم خاصيت دا دے چې اسلام صفائي د مناوهلو په طور نه رائج کوي [مَثَلًا هفتهٔ صفائي] بلکه اسلام مونږ ته د صفائې پوره نظام راکړے دے، په دې دواړو طريقو يعني د صفائې مناوهلو او د صفائې پوره نظام ورکولو کښې غټ فرق دے، د مناوهلو په ذريعه صرف خبردارے حاصليږي، ترغيب ميلاويږي او د صفائي ذِهن جوړيږي خو د صفائې پوره نِظام ورکولو سره ذِهن هم جوړيږي او په طبيعت کښې تبديلي هُم راځي او صفا اوسيدل د طبيعت حِصَّه هُم جوړيږي.

مَثَلًا: لاس وينځل، دا د صفائې حِصَّه ده. هر کال په 15 اکتوبر باندې په عالَمي

سطح **Global Hand washing Day** (يعني د لاسونو وينځلو عالمي ورځ) مناوهلے کيږي. د دې په خپل ځائے فائده شته، يعني خلقو ته د لاسونو وينځلو ترغيب ميلاويږي، بعضې خلق په دغه ورځ ځو ځو ځله لاسونه وينځي خو د اسلام خصوصيت دا دے چې اسلام مونږ ته د لاس وينځلو ورځ مناوهل نه ښائي بلکه اسلام مونږ ته د لاس وينځلو پوره نِظام راکوي. د اسلامي تعليماتو مطابق يو مسلمان په ورځ کښې کم از کم 12 ځله لاس وينځي. اوګورئ! په 24 ګينټو کښې پينځه لمُونځونه فرض دي، د هر لمَانځه نه مخکښې اودس کيږي، نو پينځه ځله لاس وينځل شو. ❁ بيا د طعام خوړلو نه مخکښې او وروسته لاسونه او خُله وينځل سُنَّت دي. عام طور خلق په ورځ کښې درې ځله خوراك کوي، دغسې په ورځ کښې شپږ ځله لاسونه [د خوراک نه مخکښې او وروسته] وينځل سُنَّت شو، 5 او 6= 11 شو ❁ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله په تاسو کښې يو کس د خوب نه رابيدار شي نو خپل لاس دِ په لوښي کښې د اچولو نه مخکښې درې ځله وِينځي، ځکه چې په تاسو کښې هيڅ چا ته معلومه نه ده چې د هغه لاس شپه چرته تيره کړي ده.

عام طور خلق په 24 ګينټو کښې يو ځل اوده کيږي او د خوب نه رابيداريدو سره د لاسونو وينځلو حکم ورکړے شوے دے. دا ټول 12 ځله وينځل شو، د دې نه علاوه په نورو موقعو باندې هم د لاسونو وينځلو ضرورت پيښيږي. تاسو اندازه اولګوئ چې څوک هره ورځ 12 ځله لاس وينځي، آيا هغه ته به د وينځلو د ترغيب د پاره د مناوهلو ضرورت وي؟ نه، ځکه چې هغه هره ورځ لاس وينځي، په دې وجه به لاسونه وينځل د هغه د طبيعت حِصَّه جوړه شي.

دا د اسلام خُصوصيت دے چې اسلام مونږ ته د صفائي پوره نظام راکوي چې د هغې په وجه صفائي زمونږ د طبيعت حصَّه جوړيږي. په مونږه لازم دي چې د صفائي

نظام اختيار کړو او د صفائۍ مزاج جوړ کړو. ډير خلق داسې دي چې د اسلامي تعليماتو نه لرې دي، هغوئي په مخصوصو موقعو باندې صفائي کوي خو د هغوئي په طبيعت کښې صفائي نه وي مثلاً بعضې خلق داسې وي چې د ملاقات په وخت کښې غاړه ورکړې نو ښکلي خوشبو ترينه راځي خو هم هغه کس چې کله بوټان اوباسي نو د جُرابو نه ئې داسې بدبوئي اوچتيږي چې بنده ساه نه شي اخستے.

په دې وجه مونږ له پکار دي چې صفائي خپل مزاج جوړه کړو، که صفائي زمونږ د طبيعت حِصَّه جوړه شي نو مونږ به په هر لحاظ سره صفا سُتره اوسيدونکي جوړ شو.

## (3) د صفائۍ مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم دريم خصوصيت

د صفائۍ مُتَعَلِّق د اسلامي تعليماتو دريم خاصيت دا دے چې اسلام د فيشن په طور د صفا سُتره اوسيدلو ترغيب نه ورکوي بلکه اسلام د عباداتو حِصَّه ده، مثلاً ❁ اودس کول عبادت دے ❁ په ښه نِيَّت غُسل عبادت دے ❁ د جُمعے د لمَانځه د پاره غُسل کول عبادت دے ❁ د اخترونو د لمَانځه د پاره غُسل کول عبادت دے ❁ د سُنَّت په نِيَّت مِسواك کول عبادت دے ❁ جامے د ناپاکۍ نه بچ کول❁ جامے پاکې ساتل د **الله** پاك د رضا په نِيَّت عبادت دے ❁ په سر تيل لګول ❁ که د ګيرې اِکرام [يعني صفا ساتل، غوړوَل، ګمنزوَل] د سُنَّت ادا کولو په نِيَّت وي نو عبادت دے.

دغه شان د طهارت، صفائي سُترائي او پاکۍ حاصلولو ډير صورتونه دي چې هغه په عباداتو کښې شامِل دي، د حضرت اِبنِ عُمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه روايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې پاك شي (يعني اودس اوکړي يا غُسل پرې فرض وي نو غُسل اوکړي) او شپه تيره کړي، د هغه خوا ته يوه فرښته اوسي، هغه چې په شپه کښې کله هم بيدار شي، [نو] فرښته دُعا کوي: اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِعَبۡدِکَ کَمَا بَاتَ طَاهِراً يا **الله**

پاکه! خپل بنده اوبخښي څنګه چې ده د پاکۍ په حالت کښې شپه تيره کړه.[1]

اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! دا د اسلام تعليم دے..! صفائي اختيار کړئ خلقو ته ښودلو د پاره نه، د خپل تعريف په لالچ کښې نه بلکه د **اللہ** پاك د رِضا حاصلولو د پاره. که مونږه د **اللہ** پاك د رضا او د آخرت د کاميابۍ او د جنَّت حاصلولو د پاره صفائي کول خپل عادت جوړ کړو نو د دې د پاره به مونږ ته په زرګاؤ روپۍ د خرچ کولو ضرورت نه پيښيږي بلکه کومه صفائي چې د اللہ د رضا د پاره وي، په هغې کښې به سادګي غالِبه وي ❁ که ساده شان د لږو روپو جامے هُم وي، خو چې مقصد ئې د **اللہ** پاك رضا وي نو هغه هم صفا سُتره ساتل کيدے شي، او که خلقو ته ښودل مقصد وي، خپل واه واه اوريدل مقصود وي نو ښکاره خبره ده چې بيا د زرګاؤ روپو جامے هم کمې دي ❁ که د **اللہ** پاك رضا مقصود وي نو که وړوکے او کچه کور وي نو هغه هم صفا ساتل کيدے شي❁ که د **اللہ** پاك رضا مقصود وي نو غاښونو صفا کولو د پاره د ګران توتھ پيسټ اخستلو ضرورت نشته د 10 يا 20 روپو مسواك به هم کار اوکړي او اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د ګران توتھ پيسټ نه به ئې ښه صفا کوي❁ که **اللہ** پاك راضي کول مقصود وي نو څوک به د خپل کور کچره د ګاونډي د دروازے مخې ته اچول برداشت نه کړي. لِهٰذا مونږ له پکار دي چې مونږه د **اللہ** پاك د رضا د پاره د سُنَّتو لحاظ اوساتو او د صفائي سُترائي عادت جوړ کړو.

## کپړه هم تسبيح کوي

**اُمُّ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنها فرمائي: زما خوا ته حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو، اوئې فرمائيل: اے عائشه! دا دواړه څادرې اُووِينځه...! ما

---

[1] ...معجم کبير، جلد:6، صفحه:257، حديث:13446۔

عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور و پلار په تاسو قربان شه...! پرون خو ما دا دواړه ښادرې وينځلي وې. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **آيا تا ته معلومه نه ده چې کپړه هم تسبيح کوي (يعني د الله پاک پاکي بيانوي) او چې کله خِيرنه شي نو د دې تسبيح کول بند شي.**[1]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك انداز، پاك طبيعت څومره ښکلے دے. لباس وينځل دي، د دې سره لباس صفا او پاك کيږي خو مقصد ئې څه دے؟ **چې د لباس خيرے لرې شي او دا تسبيح اوکړي** ۞ زمونږ په کورونو کښې عام طور په خاصو موقعو (مثلاً اختر، واده، ختم او د دولسمي محفل وغيره) باندې زياته صفائي کيږي ۞ يا که ميلمانه راځي نو د صفائي ډير اهتمام کيږي ۞ په داسې موقعو په کور کښې زنانه د کټونو ښادرې ۞ د صوفو او بالښتونو پوشونه وغيره وينځي، که مونږه د خلقو پرواه نه کولے او د **الله** پاك د رضا د پاره مو د کور د استعمال څيزونه، کپړے صفا ساتلے نو کپړو به تسبيح کولے او د دې د تسبيح کولو په وجه به مونږ ته ثواب حاصليدے.

**الله** پاک دِ مونږ ته صرف د هغه جَلَّ شَانُهُ د رضا د پاره د صفائي سُترائي د خيال ساتلو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (4) د صفائي مُتَعَلِّق د اسلامي تعليم څلورم خاصيت

اے عاشِقانِ رسول! اسلام د ظاهر د صفائي سره د باطِن په صفائي باندې هم زُور ورکوي، تر دې پورې چې په قرآنِ کريم کښې لفظِ طهارت په ډيرو موقعو باندې ذِکر شوے دے، په دې کښې اکثر مقامات هغه دي چرته چې د طهارت د لفظ نه د ظاهِر

[1] ...تاريخ بغداد، جلد:9، صفحه:245۔

نه بلکه د باطِن يعني د زړه صفائي مراد ده. حُضُور داتا ګنج بخش علی هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ګَشْفُ الْمَحْجُوْب کښې فرمائي: د اِيمان راوړلو نه پس د ټولو نه وړومبے فرض طهارت دے، طهارت دوه قِسمه دے: (1) باطني طهارت (2) ظاهري طهارت. څنګه چې د ظاهري طهارت نه بغير لمُونځ نه قبليږي، دغه شان د باطني طهارت نه بغير د **الله** پاك معرفت نه نصيب کيږي.[1]

## د زړه صفائي ډيره ضروري ده

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَ اِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ اَلَا وَ هِيَ الْقَلْبُ بيشکه په بدن کښې د ټينګې ويني يوه ټکړه ده، کله چې دا ټيك شي، ټول بدن ټيك شي، کله چې دا ټکړه خرابه شي نو ټول بدن خراب شي، واورئ! د ټينګې وينې هغه ټکړه زړه دے.[2]

په يو حديثِ پاك کښې ارشاد دے: بيشکه **الله** پاك صرف ستاسو ظاهري صورت او پوستکي ته نه ګوري بلکه **الله** پاك ستاسو زړونو ته هم ګوري.[3]

## افسوس! مونږه د زړه په اِصلاح تَوَجُّه نه ورکوو

اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې حديثِ پاك نه معلومه شوه چې زړه د **الله** پاك د کتلو مقام دے، حيرانتيا ده په هغه کس باندې څوک چې د ظاهري مخ د صفائې خيال ساتي، هغه وينځي، د خِيري نه ئې صفا ساتي چې مخلوق ته د هغه د مخ کوم عيب ښکاره نه شي خو د زړه اهتمام نه کوي کوم چې د رَبُّ الْعٰلَمِيْن د نظر [يعني کتلو

---

[1] ...کشف المحجوب، صفحه:423۔

[2] ...بخاری، کتابُ الْاِيْمان، صفحه:صفحه:84، حديث:52۔

[3] ...مسلم، کتابُ الْبِر، صفحه:1387، حديث:6564۔

مقام دے.[1]

## خلور څیزونه د بدبختئ نه دي

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: خلور څیزونه د بدبختئ نه دي: (1):جُمُوْدُ الْعَيْنِ يعنې په سترګو کښې اوښکې نه راتلل (2):قَسَاوَةُ الْقَلْبِ د زړه سختي (3):طُوْلُ الْاَمَلِ اوګږده اُمیدونه (4): او اَلْحِرْصُ عَلَى الدُّنْيَا د دُنيا حرص او لالچ.[2]

په يو حديثِ پاك کښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بيشکه په خلقو کښې الله پاك نه د ټولو نه زيات لرې سخت زړه والا دے.[3]

دِلِ مُردہ دِل نہیں، اسے زِندہ کر دوبارہ | کہ یہی ہے اُمّتوں کے مرضِ کُہن کا چارہ

**وضاحت**: مرضِ کُہن يعنې زَړه [يعني پخوانئ] بيماري. مطلب دا دے چې د قومونو د زوړ نه زوړ مرض علاج دا دے چې د هغوئي زړونه ژوندي شي.

اے عاشِقانِ رسول! معلومه شوه چې د زړه پاکوالے، د ظاهر د صفائي نه زيات اَهَم او زيات ضروري دے، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د زړه په صفائي د ټولو نه زياته توجُّه ورکړو. د زړه د سختيدو ډير اسباب دي مثلاً ❁ زياتو او فضولو خبرو سره زړه مړ کيږي ❁ زياتي خندا سره زړه مړ کيږي ❁ زيات خوراك کولو سره زړه مړ کيږي ❁ د ګناهونو په وجه زړه مړ کيږي او سختيږي. دغه شان د زړه مړکيدو، سخت کيدو او تور کيدلو نور هم اسباب دي.

---

[1] …منهاج العابدين، صفحه:182۔

[2] …مُسْنَدِ بَزَّار، جلد:13، صفحه:88، حديث:6442۔

[3] …ترمذی، کتابُ الزُّہد، صفحه:573، حديث:2411۔

د دې د علاج طريقه دا ده چې ❁ بنده دِ په کثرت سره د **الله** پاك ذِكر اوکړي❁ دغه شان د يتيمانو مسكينانو، غريبانو سره دِ نيك سلوك اوکړي، دې سره هم د زړه صفائي كيږي او د زړه د سختئ نه خلاصے نصيب كيږي ❁ مرګ په كثرت سره يادول هم د زړه د تور والي زبردست علاج دے.

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار ”چوك درس“

خوېږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ظاهر و باطن د صفائې ذِهن حاصلولو او د سُنَّتو عامل نيك پرهيزګاره جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے دولسو ديني كارونو كښې په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

ياد ساتئ! د ذَيلي حلقے په دولسو ديني كارونو كښې يو د هرې ورځې ديني كار ”**چوك درس**“ هم دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي سره وابسته عاشقانِ رسول صرف په جمات كښې نه بلكه كوڅو، محلو او دُكانونو ته ځي او درس وركوي، نيكئ ګټې او نورو ته د نيكئ دعوت وركوي او د سُنَّتو پيغام عام كوي. راځئ چې د چوك درس يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د وخت قدر ورنصيب شو

د حيدرآباد (صوبه سندھ، پاكستان) يو اسلامي ورور بيان دے: ما به د كركټ او فلمونو كتلو ډير شوق لرلو، د بےعملئ حال مې دا وو چې د جُمعے مباركې لمُونځ به مې هم نه ادا كولو، بيا په ما باندې كرم اوشو، زمونږ په علاقه كښې به يو اسلامي ورور چوك درس وركولو، يوه ورځ هغه په ډيره مينه ما ته په چوك درس كښې د شريك كيدلو دعوت راكړو، خوش قسمتئ سره ما د هغه درس په غور سره واوريدو، بيا به زه

هره ورځ د هغه په درس کښې شريك کيدم، د ورځو تيريدو سره سره په ما کښې بدلون راتللو، بيا به زه کله کله د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع کښې هُم شريك کيدم، د اسلامي ورونړو د ژوند تيرولو انداز به مې چې ليدلو نو ډير زيات به خوشحاليدم، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه په نيغه لار روان شوم، ما د فلمونو کتلو نه توبه اوکړه او مخکښې به مې چې څومره وخت په کرکټ کښې بربادولو، اوس په ديني کارونو کښې مصروف اوسم.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰى |

## د اوبو څښلو 13 سُنَّتونه او آداب

**فرمانِ آخري نبـي محمدِ عربي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د اُوبښ په شان صرف په يوه ساه کښې مه څښئ بلکه دوه يا درې ځله (ساګانو اخستلو سره ئې) څښئ او چې څښل شروع کوئ نو مخکښې بِسْمِ الله اولوَلئ او چې کله د څښلو نه فارغه شئ نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې." [3]

1...جامع بيانِ عِلْم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حديث:220۔

2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

3...ترمِذِی، الحديث:، ج، ص

که اوبه وي او که بل يو د څښلو څيز وي ❁ د څښلو نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰه لولئ ❁ په چوپلو چوپلو واړه واړه ګوټونه کوئ، په غټو ګوټونو کښې څښلو سره د ځيګر بيماري پيدا کيږي ❁ اوبه په درې ساګانو کښې په ناسته او په ښې لاس څښئ ❁ که په لوټه وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې پاتې شوي اوبه څښل د اَويا مرضونو نه شِفا ده ځکه چه دا د آبِ زم زم شريف سره مشابهت لري، د دې دوو (يعني د اودس نه پاتې شوو اوبو او آبِ زم زم شريف) نه علاوه نورې اوبه په ولاړه ولاړه څښل مکروه دي. دا دوه (قِسمه) اوبه مخ په قبله په ولاړه ولاړه څښئ ❁ د څښلو نه مخکښې اوګورئ چه د څښلو په څيز کښې څه نقصان ورکوونکے څيز وغيره خو نشته. ❁ د څښلو نه پس اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اولَولئ ❁ حُجَّةُ الاسلام حضرت سيِّدنا امام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: بِسۡمِ اللّٰه دِ اولولي او څښل دِ شروع کړي. د ورومبئ ساه په آخره کښې دِ اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د دويمې ساه نه پس دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن ؕ او د دريمې ساه په آخره کښې دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ اولولي. ❁ په ګلاس [وغيره] کښې پاتې شوي د مسلمان صفا سُتره جُوټه اوبه چې د استعمال قابِلې وي فُضُول توئ کول نه دي پکار. ❁ منقول دي: سُؤۡرُ الۡمُؤۡمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان په جوټه کښې شِفا ده. ❁ د څښلو نه لږ ساعت پس چې خالي ګلاس اوګورئ نو د هغې په ويخ کښې به د ديوالونو نه يو څو څاڅکي اوبه راجمع شوي وي هغه هم اوڅښئ.[1]

مختلف سُنّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَکۡتَبَةُ الۡمَدِينه بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د 100 صفحو کتاب 550 سُنّتيں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سنّتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 …550 سنتيں اور آداب، صفحه:16۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1]

راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵